سپینه ماڼۍ
دمطبوعاتو د سکرتر دفتر
دسمدستي خپرونی لپاره
داگست ۳۰ مه، ۲۰۱۱ م کال

د جمهور رئیس وېنا د کوچني اختر په مناسبت

زه او مشل غواړو چي په امرېکا او ټوله نړۍ کي اسلامی ټولنو ته د اختر مبارکي ووایو. روژه د کورنیو او ټولنو لپاره هغه وخت دی چي د ژورو فدا کارېو، فکر او خدمت په ترڅ کي سره راټولیږي او خوشالی سره شرېکوي. په نړۍ کي، په ملیونونو انسانان دېته هڅول شویدي چي د خپلي عقیدې درناوی وکړی او هغو خلکو ته د مرستو لاس ور وغزوي چي د دوی په اندازه سوکاله ندي. سږکال، ډېرو کسانو په داسي حال کي روژه ونیوله چي په زړورتیا اومېړانه بي په خپلو هڅو ټینگارکاوه او دوام بي ورکاوه چي له بوې خوا نه خپل بنیادي ضرورېات پوره کاندي او له بلي خوا نه خپلي بنیادي ازادۍ تامین کاندي.
د امرېکا متحده اېالات به دېته ادامه ورکړي چي له هغوی سره، د ټولو خلکو د وقار او حقوقو دلاسته راوړلو لپاره ودرېږي. که دا درېدنه د افرېقا په ښکرکي د بوه وږي ماشوم لپاره وي او که د هغه ځوان لپاره وي چي په منځنی ختیځ او شمالی افرېقا کي آزادي غواړي.

څرنگه چي روژه پاېته رسیږي، نو موږ په ټوله نړۍ کي، د اسلامی ټولنو لپاره خپلي نېکی هیلي، د بوې برکتي رخصتۍ لپاره، وړاندې کوو. اختر مو مبارک شه!